## مطبوعاتي اعلاميه

## پوځي چارواکي دعوتگر نيسي

حزب التحرير / ولاية السودان
مكتب مدينة الأبيض

موقع حزب التحرير: www.hizb-ut-tahrir.org
موقع المكتب الاعلامي: www.hizb-ut-tahrir.info
موقع ولاية السودان: www.hizb-sudan.org
تلفون: 0126393703 - 0124595850

**(ژباړه)**

پوځي چارواکي د حزب التحرير يو ځوان د محمد احمد ورور، محمود په الابيد ښار کې د ماخوستن له لمانځه وروسته، د کريمه بازار په جومات کې د دې لپاره ونيو چې ده يوه اعلاميه د «پربږدئ دا يو کامياب انقلاب وي، موخې به يې واقعي بدلون راوړي» تر عنوان لاندې –چې د حزب التحرير- ولايه سوډان صادره کړې وه، وېشله. د دغه اعلاميې تر خپرېدو پورې يې خوشې نه کړ.

د دې ظالم رژيم چې دعوتگر يې نه خوښيږي. د عدالت غږ- چې د حق وسيله ده- د ځان لپاره مزاحمت بولي. داسې جنايت کارانه کړني، په دې نظر- چې کولای شي د حقيقت غږ مړ کړي او د دعوت د مخلصو حاملينو کار له خنډ سره مخ کړي- د دعوتگرو پر وړاندې تر سره کوي. خو پخپله موخه کې ناکام دې او غشی يې پر ډبره لگي. تاسو پوهېږئ چې د حزب التحرير د ځوانانو نيول به د دوی قوت د حق په لاره کې- په هغه لاره کې چې دعوت ورته کوي- لوړ کړي او په دغه لار کې چې له کوم څه سره مخ کېږي باور يې د دې لامل گرځي چې دوی د الله سبحانه وتعالی ته -چې د نړۍ او کايناتو خالق دی- نږدې کوي.

که هغه کسان چې د محمد احمد د ورور د نیول کېدو لامل شول، په هغه اعلامیه چې د ده د نیول کېدو لامل شوه، پوه شوي وای، د ده ټنډه به یې ور ښکل کړې وه ان د اعلامیې په وېش کې به یې مرسته ورسره کړې وای. خو دوی کاڼه، ړانده او ګونګي دي، دوی نه پوهیږي. دا اعلامیه په اصل کې د شریعت پیام و، چې د ټولو اړتیا ده؛ د انقلاب کوونکو، امنیتي سازمانونو، پولیسو او په وسلوال پوځ کې د بانفوذه او قدرتمندو کسانو لپاره چې خپلې عقیدې ته اخلاص لري. که ټولې ډلې، هغه څه ته چې په دغه پیام کې ویل شوي، وفادار واوسي، منظم ژوند به ولري، ځکه د دې امت لپاره له اسلام پرته بل هېڅ ځای ریښتینولي نه شته. داسې اسلام چې دولت ولري ، داسې دولت، چې د منهج پر نبووت راشده خلافت وي.

نو بیاځلې دا اعلامیه د ایمان په رڼا او مخلصو زړونو ولولئ، څو الله سبحانه وتعالی پر تاسو او ټول امت د بریا دروازې پرانیزي. وروسته به د پیغمبرانو د مرشد او کایناتو د سردار صلی الله علیه وسلم زېری حاصل شي، لکه څنګه چې هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

***ژباړه:*** *وروسته به د پیغمبر پر منهج خلافت راشي.*

**ابراهیم عثمان (ابوخلیل)**

**د حزب التحریر- ولایه سوډان رسمي ویاند**

**د صدور ګڼه: HTS 16/1440**

**د 1440هق د ربیع الثاني 19مه**

**د 2018م د دسمبر 26مه**

**ژباړن: حبیب الله**